پښتو ژباړه: عبدالرحمن فرقانی

نیټه 14/12/2009

# په ډپلوماتيك لوموند کې خپور شوې ليکنه

**زما د بوټ داســــتان**
**يرغلګر بوش ته زما ګل.**

منتظر الزايدی: "زه آزاد شوم، خو
زما هيواد لا تراوسه اسير دی .
د ۲۰۰۹ سپتمبر ۱۴مه"

دلوی او مهربانه څښتن په نامه :

وړاندې له هرڅه غواړم چې په خپل هيواد کې، په لوی عربي وطن کې، اسلامي نړۍ او په خپلواکه نړۍ کی له ټولو هغوکسانو څخه مننه وکړم، چې زما څخه يې ملاتړ کړی. زما دکار په هکله اودهغه کس په هکله، چې زما د بوټانو نښه وو، د اتل او اتلوالۍ په هکله، د دې ځلانده کار په هکله ډيري خبرې شوې دي، خو زه يو ساده ځواب لرم. هغه څه چې زما احساسات يې راوپارول هغه زما په هيواد کې په خلکو باندې تيری اوبې عدالتي وه، چې په لاره واچول شوه اوهمدارنګه د يرغلګروهغه تګلاره وه، چې غوښتل يې زما هيواد ترخپلو پښواولغتوو لاندې تحقير کړي، همدا رازد يرغلګرځواك هغه تګلاره وه، چې غوښتل يې زما د هيواد د سپين ږيرو، ښځو، کوچنيو، او بيوزله سړيو ککرې تر پښو لاندې کړي.

د څوکالونو په اوږدو کې تريو مليون زيات شهيدان د يرغلګرو د مرميو له کبله خاورو ته وسپارل شول، زموږ هيواد اوس مهال پينځه مليونه يتيمان، يو مليون کونډې، اوپه زرهاوو معلول کسان لري، او په مليونونو نور کسان د هيواد په داخل او له هيواد څخه بهر د اجباري ليږد لو امله بې کوره شوي دي.

موږ هغه ملت وو، چې عرب وګړو به خپله مړۍ هره ورځ له کردانو، ترکمنانو، آشوريانو، زيدانو.... سره ويشله، شيعه ګانو له سنيانو سره ګډ لمونځ ادا کاوه، او مسلمانانو د مسيحيانو سره د مسيح عليه السلام ميلاد لمانځه، هغه هم پداسې حال کې چې موږ د امريکا د بنديزونو له امله لس کاله لوږه تيره کړې وه، زموږ يوالی او اتحاد د دی باعث ګرځيده چې استبداد هير کړو، د استبداد څخه د ژغورلو په پلمه، چې بعضو پرې باور هم کړی، زموږ په هيواد يرغل تر سره شو، د يرغل له امله ورور د ورور په وړاندې ودريد، ګاونډی د ګاونډي په وړاندي او زوی د پلار په وړاندې راولاړ شول، يرغلګرو زموږ کورونه په جنازه خانو او فاتحه خانو بدل کړل، زموږ پارکونه او د لوبو ځايونه په مقبرو بدل شول.

يرغل طاغوت دی او هغه وژونکي آفت دی، چې مقدسو او پاکو ځايونو ته سپکاوی کوي او زموږ د کورونو په مقدس حريم باندې تيری کوي، هره ورځ په زرهاوو کسان موقتو زندانونو ته وړي. زه اعتراف کوم چې زه يو اتل نه يم، خو د ځانګړي ليدلوري او نظر خاوند يم. زه د خپل هيواد له سپکاوي او د بغداد په اورکې سون له امله تحقيريدم، زموږ خلك وژل کيږي، او په زرګونو د ځوروني او ستمګرۍ انځورونو زما په ذهن فشار راوست، او زه به يې هڅولم، هغې لارې ته يې هڅولم چې د يرغل په وړاندي مقاومت او ديرغل رټل په کې نغښتي وو، د فريب کاري او درواغو په وړاندي مبارزه، خوب په ما حرام و، په لسګونو او سلګونو د وژنې هغه انځورونه چې د کچنيانو ويښته هم سپينوي زه ځورولم، لکه دي ابو غريب فاجعه او د فلوجې ټول وژنه، نجف، حديثه، بصره، ديالي، موصل، تلعفر، او هره لويشته زما د زخمي هيواد، په تيرو کالونو کې مې د خپل هيواد څلورو زخمي ګوټونو ته سفر وکړ، او په خپلو سترګو مې د خلکو ځوريدل او بيوزلي وليده، او په خپلو غوږونو مې د يتيمانو او بيوزله خلکو فريا د او چيغې واروېدی، خو ځکه چې ما ځواک ندرلود، د شرم احساس زما تر وجود راتاو شوی و، د خپل کار په دوران کې چې هره ورځ د عراقيانو پر ضد د فجايعو د رپوټونو برابرول وو، هغه ويجاړ کورونه مې تر سترګو کيدل، د قربانيانو د وينو داغونه مې له خپلو جامو څخه پاکول پداسې حال کې چې غوابښونه مې يو په بل تينګيدل، قربانيانو ته مې لاس ورکړی و چې د دوی انتقام به اخلم.

فرصت په لاس راغي او ما ورڅخه ګټه پورته کړه.

د بيګناه خلکو د وينو د هرڅاڅکي د احترام په خاطر چې يرغلګرو څڅولې دي، او د هر مور د زوېرګي له امله، د هر يتيم د چيغې په خاطر، د هر جنسي تيري له امله او دهر يتيم د اوښکو په خاطر ما له د فرصت څخه ګټه پورته کړله، له هغو کسانو څخه چې زما په کار نيوکه کوي پوښتنه کوم چې آيا دوی پوهيږي چې په هغه بوټ باندې ما د څو هغو کورونو خبر واخيست چې يرغلګرو ځواکونو نړولي دي؟ آيا پوهيږي، چې دا بوټ څو ځله په هغه بيګناه وينو اېښودل شوی، چې يرغل تويې کړې دي؟ آيا پوهيږي، چې دا بوټ څومره هغو کورونو ته ننوتلی، چې يرغل يې د پاك لمنو ښځو حرمت تر پښو لاندې کړی؟ اوس چې په ټولو ارزښتونو تيری شوی، دا بوټ کيدای شي مناسب ځواب وي، کله


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مې چې خپل بوټ د جنايتکار بوش لوري ته ور وار کړ، غوښتل مې چې د درواغو نه منل، او د خپل هيواد اشغال د ده په لاس، او خپله غندنه د خپلو بيګناه خلکو د وژنو په خاطر په ډاګه کړم، همدارا ز مې غوښتل چې د خپل هيواد د شتمنيو چپاول، د موسساتو ويجاړيدل، او د وګړو بې کوره کيدل او ليږدول وغندم، وروسته له شپږ کاله سپکاوي، بې حرمتۍ، وژنو، او په مقدساتو تيري، عبادتځايونو ته سپکاوي، يوقاتل راغلی دی تر څو د خپلې کاميابۍ، ځان ستاينې، ديموکراسۍ وياړ وپلوري، هغه راغلی دی، تر څو د خپلو قربانيانو سره خدای په اماني وکړي، اوبالمقابل هيله من دی چې خلك ګلان ورته وړاندي کړي، ډير په ساده ګۍ دا زما ګل و يرغلګر لره، او د هغه يارانو ته، د دوی د کړنو او درواغو له امله، له يرغل څخه وړاندي او تر يرغل وروسته.

ما غوښتل چې د خپل کار او دندې له شرف او حرمت څخه، چې د يرغل له لومړۍ ورځې څخه تر تيري لاندې راغلی او ويجاړ شوی، دفاع وکړم، بعضي کسان پدې نظر دي چې ولې ما په مطبوعاتي کنفرانس کې دبوش څخه کومه ستونزمنه پوښتنه نه کوله، چې د ده دشرم او سپکاوي لامل شوې وای؟ خو اوس زه تاسو خبرنګارانو ته ځواب درکوم، چې څرنګه ما کولای شوای، چې دا راز پوښتنه مطرح کړم، چيری چې ماته له وړاندې لاربښونه شوې وه، چې بايد پوښتنه مطرح نشي او يوازي بايد د څرنګوالي رپوټ وړاندې شي، له بوش څخه پوښتنه ټولو ته ممنوع وه، د دندې اړوند بايد په ډاګه کړم، چې دنده هم تر يرغل لاندې ده، د هيواد پرستۍ غږ تر ټولو لوړ غږ دي...، که هيواد پرستي خوله خلاصه کړي، نو بايد دنده او شغل هم ورسره هم غږې شي، ما لدې فرصت څخه ګټه پورته کړه، که ما دناپوهي سره د دندې د محدوديت له امله خبرنګاري مقصره پريښولې ده، دهغه ممانعت له امله مې دا کار کړی دی، چې د واك خاوندانو رامنځ ته کړی دی، زه د هغه بنديزونو له امله، چې دوی ايجاد کړي دي، له تاسو څخه هيله کوم، يوازې هغه کار چې ما نيت درلود او غوښتل مې چې تر سره يې کړم، د هغه وګړي څرګندونه وه چې وجدان يې ژوندی دی او هيواد ته يې سپکاوی شوی دی.

تاريخ داسې دير روايتونه ثبت کړي، چې د دې دندې ( خبرنګاری ) اهل د امريکا د سياستکارانو د لاس آله شوي دي، يوه نمونه يې د فيدل کاسترو د وژلو هڅه وه، چې د کوبيايی فلمبردارانو په تلويزوني کامره کې ورته د چاودنې موادو ځاپځاي کيدو کوښښ وشو، د دې په څير په عراق کې د عام تصور د اغفال لپاره او يا هم د پيښو د ريښتينوالې لپاره دا راز کوښښونه شوي دي، او په دې اړوند ډيرې ورته پيښي شته دي، چې زه ورڅخه تيريږم، خو زه غواړم ستاسو پام هغو مشکوکوبنسټونو ته لکه د امريکا د جاوسوسي شبکې او د دوی متحدينو ته راواړوم، چې زما د له منځه وړلو لپاره يې د هيڅ اقدام څخه مخ ندی اړولی، ځکه ما يو بلواګر سړی ګڼي، کيدای شي، دوي بيا هم ز ما د ووژني هڅه وکړي، او يا مې له ساحې څخه لرې کړي، او زه خپلو مينه والو او خپلوانو ته د هغو دامونو څخه چې د استخبارتي شبکو د کارکونکو له اړخه ما ته د وژلو او يا اسيرولو لپاره ايښودل شوي دي او يا د ټولنيز يا جسمي يا د دندی په اړوند ماته زيان ورسوي، خبرداری ورکوم .

هغه مهال د عراق صدر اعظم، په يوه تلويزوني مرکه کې وويل چې پرته لدې چې هره شپه د منتظر زيدي له احوال څخه خبرنشم چې آيا دي بستره او کټ د ويده کيدو لپاره لري که نه، نه ويده کيږم، حال دا چې د ده د خبرو سره سم يې زه په وحشيانه توګه ځورولم : د برقي جټکی په ذريعه، د متروکې يا کيبل په ذريعه، د فلزي ميلو په ذريعه، او دا ځورونه سم د هغې ځاي د شا په انګړ کې تر سره کيدله، چې مطبوعاتي کنفرانس په کې دايريده، مطبوعاتي کنفرانسونو ادامه پيدا کوله او ما د ګډونکونکو غږونه اوريدل، کيدي شي دوي هم زما چغې او زوبړګې اوريدلې وي، هر سهار يې په سړو اوبو کې ډوبولم او غوټه کولم، زه ښاغلي مالکي ته متاسف يم چې حقيقت يې له خلکو پټ کړی دی. کيدای شي، وروسته د هغو کسانو نومونه په ډاګه کړي، چې زه يې ځورولم. يو لړ يې د دوي د دولت او پوځ لوړ پوړي مامورين وو، زما هيله لدې کار څخه د شهرت حاصلول يا مادي لاسته راوړنه نوه، يوازې غوښتل مې چې له خپل هيواد څخه دفاع وکړم او دا هغه مشروع حق دی، چې د بشر نړيواله موسسه او الهي اديان يې تايدوي. هغه هيواد چې د سپيڅلي تمدن سره د سپکاوي ښکار شو، زه مطمين اوډاډه يم، چې تاريخ اوپه تيره د امريکا تاريخ به دا ثبت کړي، چې څرنګه امريکايي يرغلګرو مغرور عراق او سرلوړي عراقيان سر ټيټولو ته اړکړل. دوي خپل هدف ته د رسيدلو لپاره او د خلکو د غولولو لپاره خپل ناوړه دلايل په نغارو کې د خلکو تر غوږونو رسوي، دا د حيرانتيا خبره نده ده، ځکه چې دا تګلاره هغې تګلارې ته ورته تګلاره ده، چې استعمارګرانو په امريکا کې د امريکا د خاوري له اصلي اوسدونکو سره هم کړي وه. زه يرغلګرو، د دوی ملاتړو او د دوي ترشاتلونکو او مبلغانو ته وايم چې، هيڅ کله نه! ځکه چې موږ هغه خلك يو چې ولاړ به شو خو تحقير اوذلت نه منو، اوپه پای کې په وضاحت وايم چې زه يو خپلواك سړی يم، د هغه څه په خلاف چې د ځورولو په مهال زما اړوند ويل شوي دي، د هيڅ يوه سياسي حزب غړی نه يم، هغوی کله ما تندروه ګڼي او کله هم کمونست! زه په هيڅ سياسي حزب پورې تړلی نه يم، اوزما راتلونکی زيار به د هغو خلکو اړوند په ټولنيز ډګر کې وي، چې زما خدمت ته اړمن دي. د هغو کسانو د ادعا خلاف، چې ګواکې سياسي پاڅون راولاړوم، زه د کونډې يتيم او هر هغه چا لپاره، چې يرغل يې ژوند تباه کړی دی، زيار باسم، چې څه خدمت ورته وکړای شم. زه د شهيدانو د روح د ښادۍ لپاره دعا کوم، چې په زخمي عراق کې په خاورو کې وليودل، زه د اشغالګرو او د دوي د متحدينو د رسوايۍ دعا ګو يم، زه همدا راز د هغو شهيدانو لپاره چې په عراق کې خاورو ته سپارل شوي او هغو کسانو ته چې د ځنځيرونو سره زندانو ته وړل شوي، دعا کوم، سوله او سوکالي ستاسو صبرناک او په خداي مو توکل ولس په برخه ده.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما پیغام زما ګران هیواد ته دا دی، چې زما مینه والو پرما اعتماد وکړ او راته يې وويل چې (منتظره) که له زندان څخه خلاص شوې نو جابرو او مطلقه قدرتونو ته ووایه – زه په یوه خداي باور لرم چې قادر ذات اولوی دی، - او یادونه ورته وکړه چې په زرهاو بندیان په بندیخانو کې د بې اساسه تورونوله امله وراسته شول. دوی له کالونو څخه په زندان کې دي، خو نه په کوم جرم متهم دي او نه هم کومې محکمې ته بوول شوي دي، دوي يې له سرکونو څخه راټول کړي او زندان ته يې وړي دي، او اوس د تاسو په وړاندې او د خدای تعالی حضور ته هیله من یم، چې زما غږ واوري او یا ما په تلویزون کې ووینې، اوس په خپله وعده وفا کوم، دولت ته او د دولت لوړ رتبه مامورینو او سیاستمدارانو ته یادونه کوم، هغه څه چې په زندانونو کی تر سره کیږي، ووینې. غفلتونو د عراق قضایي نظام په وضعیت کی خورا ډېرې بې عدالیې رامنځ ته کړې دي.

مننه کوم. سلام او د خدای رحمت دې پر تاسو وي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ